د افغانستان اسلامي امارت

رسول الله ﷺ فرمايلي دي :

که غواړې، چي زړه دي نرم سي نو د يتيم پر سر لاس راتېر کړه او مسکين ته خواړه ورکړه . صحيح الجامع : ( ١٤١٠ )

رسول الله ﷺ مى فرمايد:

اگر مى خواهيد دل تان نرم شود، بر سر يتم دست نوازش بكشيد و به مسكين غذا بدهيد.. صحيح الجامع ( ١٤١٠ )

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د ماليې وزارت

# شتمني SHTAMANI

اوونيزه

شنبه | د جمادیالاول ۲۸-۱٤٤٦ال س/ د لېندۍ ۱۰-۱٤۰۳ال ل/ د نومبر ۳۰-۲۰۲٤ز/خلورم کال / ۱۲٤ گڼه/ ٤ مخيزه



## سرمقاله

### ماليې وزارت د مسلکي محاسبې مسلک نور هم معياري کوي

د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداره، د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست تر چتر لاندي کار کوي. د دې اداري بنسټ په (۲۰۱۳) زېږديز کال کي په افغانستان کي د معياري محاسبې او په مالي راپور ورکولو کي د روڼتيا رامنځته کولو په موخه رامنځته سو. دغه اداره په افغانستان کي د مسلکي محاسبې يوازينۍ تنظيمونکې اداره ده، چي په مالي راپور ورکولو کي د کيفيت او تضمين راوستلو، د ناوړه کړنو څېړنه او په مقابل کي د څارونکو اقداماتو ترسره کولو، په افغانستان کي د محاسبې نړيوالو مسلکي معيارونو عملي کولو، د مسلکي محاسبې لاربښوونو او روزنو، د مالياتي تېښتي د مخنيوي، د مسلکي محاسبينو او پلټونکو شرکتونو د ثبت او د فعاليت جواز ورکولو او د دوی د کار او کيفيت د څارني په برخه کي فعاليت کوي.

د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداره ژمنه ده، چي په مالي راپور ورکولو کي روڼتيا رامنځته کړي. د دې له پاره ئې په هيواد کي د لومړي ځل لپاره د پلټونکو ادارو او د مسلکي زده کړو بنسټونو ته د جواز ورکولو پروسه پيل کړه. د مالي چارو د پلټني اداري، په امارتي او خصوصي شرکتونو کي د پلټني چاري ترسره کوي، چي موخه ئې د مالياتو له تېښتي څخه مخنيوی، د مالي ستونزو رابرسېره کول او حلول، د مالي روڼتيا رامنځته کول او د مالي چارو معياري کول دي.

له کلونو راهيسي افغانستان د مسلکي محاسبينو له کموالي سره مخ وو او په دې برخه کي د مسلکي محاسبينو نه شتون، د افغانستان مالي اداري له گڼو ستونزو سره مخ کړي وې. د همدې ستونزو د حل او د مسلکي محاسبې د پياوړتيا په موخه د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداري افغان زده کوونکو ته د (ACCA) وړيا بورسونه وړاندي کړل، چي د دې بورسونو مالي لگښت به هم د ماليې وزارت له لوري د يادي اداري له ترتيب سوي کړنلاري سره سم ورکول کيږي او تر دې دمه په سلگونو زده کوونکي له دې پروسې څخه برخمن سوي دي.

د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداره به په افغانستان کي د پلټونکو شرکتونو او د مسلکي زده کړو ښوونيزو مرکزونو د يوې څارونکي اداري په توگه خپل فعاليت ترسره کوي او د پلټونکو شرکتونو، ښوونيزو مرکزونو او انفرادي محاسبينو له کړنلارو او شفافيت څخه به نظام ته ډاډ ورکوي.

په افغانستان کي د محاسبې مسلك د شفافيت او حساب ورکوني له پاره اساس دئ، چي له دې سره به د مالي منابعو ښه مديريت او د فساد مخنيوی وسي. د دې مسلك په پرمختگ سره به مالي روڼتيا رامنځته سي، چي دا به په پانگونه او سالم اقتصادي چاپيريال رامنځته کولو کي هم مرسته وکړي. په افغانستان کي د محاسبې مسلك لاهم پياوړتيا ته اړتيا لري. د محاسبې مسلکي ښوونه او روزنه بايد له نړيوالو معيارونو سره همغږې سي؛ ترڅو د دې مسلك ارزښت او کچه نوره هم زياته سي.

**درنښت**

**اداره**


## د ماليې وزير د مستوفيتونو له مسئولينو سره په انلاين بڼه وغږېد



د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند په مشرۍ د هيواد د مستوفيتونو له مسئولينو سره د انسجام انلاين ناسته وسوه. په دې ناسته کي د عوايدو لوی رئيس حافظ مولوي شاه حسين حسيني، د عوايدو حمايوي مرستيال او د مستوفيتونو مسئولينو گډون درلود. د ناستي په پيل کي د ماليې وزارت سرپرست وينا وکړه او په خپلو خبرو کي ئې د عوايدو لوی رياست او مستوفيتونو ترمنځ پر لا ښې همغږۍ ټينگار وکړ او زياته ئې کړه، چي د خلگو کارونه مه ځنډوئ، له خلگو سره ښه سلوك وکړئ، په خپلو کارونو کي اخلاص او صداقت د ځان عادت جوړ کړئ، د مراجعينو مکتوبونه او استعلامونه پر وخت سره ځواب کړئ، په چارو کي اسانتياوي رامنځته کړئ او د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) فرامين پر ځان عملي کړئ او وروسته ئې پر خپلو کارکوونکو تطبيق کړئ. ښاغلي وزير صاحب د مستوفيتونو مسئولينو ته هدايت وکړ، چي په هرو پنځلس ورځو کي اداري مجلسونه جوړ کړئ او زياته ئې کړه، چي د ماليې وزارت دروازه د ستاسو پر مخ خلاصه ده. ورپسې د عوايدو لوی رئيس هم وينا وکړه او مستوفيانو ته ئې په خطاب کي ئې وويل، چي ټول مستوفي صاحبان بايد په رسمي وخت کي په خپلو دفترونو کي حاضر وي او د مستوفيتونو په چارو کي له زياتو مناسباتو څخه ځان وساتي، د خلگو ستونزي په ورين تندي حل کړي او خپلو خلگو او اسلامي نظام ته په اخلاص سره خدمت وکړي.

## د څه باندي ۱۰ ميليونه افغانيو په ارزښت د آقينې گمرک د ارشيف جوړولو پروژه پيل سوه





د گمرکونو لوی رياست د (۱۰،۱) ميليونه افغانيو په ارزښت د فارياب ولايت د آقينې په گمرك کي د ارشيف جوړولو پروژه پيل کړه. د دغې پروژې لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي، چي چاري به ئې تر راتلونکو اتو مياشتو پوري بشپړې سي. د دې پروژې په پلي کېدو سره به د آقينې په گمرك کي د گمرکي سندونو د خوندي ساتلو په برخه کي گڼې اسانتياوي رامنځته سي. د يادوني وړ ده، چي په گمرکونو کي د سوداگرو له پاره د اسانتياوو رامنځته کولو او په هيواد کي د سوداگرۍ د لا ودې په موخه د گمرکونو لوی رياست هڅه کوي، چي د هيواد په گمرکونو کي پراختيايي پروژې پلي او په عصري وسايلو ئې سمبال کړي.

## تېره اوونۍ د هيواد له گمرکونو څخه (٦٠) ټانکره بې کيفيته تېل مسترد سوي دي


د ماليې وزارت د نفتي موادو د کيفيت او څارني رياست، چي د ټاکل سويو معيارونو له مخي هيواد ته د واردېدونکو نفتي موادو کيفيت معلوموي، تېره اوونۍ ئې د فراه ولايت د ابو نصر فراهي او د هرات ولايت د تورغونډۍ له گمرکونو څخه (٦٠) ټانکره واردېدونکي بې کيفيته تېل بيرته گرځولي دي. له مسترد سويو بې کيفيته تېلو څخه يوازي (۴۱) ټانکره ئې د سها صفا پيټروليم شرکت له لوري را وارد‌ېدل، چي له تثبيت وروسته د تورغونډۍ له گمرك څخه بيرته وگرځول سول. د ماليې وزارت د نفتي توکو د کيفيت او څارني رياست د ټاکل سويو معتبرو معيارونو له مخي، هيواد ته د لوړ کيفيت او معياري نفتي توکو واردولو ته زمينه برابروي او د بې کيفيته نفتي توکو له واردولو څخه په کلکه مخنيوی کوي.





د گمرکونو او عوايدو معين د نفتي موادو د ارزوني په موخه فراه ولايت ته سفر وکړ

م ۲



په هيواد کي د لومړي ځل له پاره د پلټونکو ادارو او د مسلکي زده کړو بنسټونو ته د جواز ورکولو پروسه پيل سوه

م ۲




د ماليې وزارت مقام د شکايتونو اورېدو خپلواک آمريت (۲۰) شکايتونو ته رسېدنه کړې

م ۲



تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي

م ۲




د پيسو د ارزښت ساتل او پياوړتيا

م ۳




د چين ـ افغانستان ـ ايران پټلۍ د مسير او لگښت د لنډېدو احتمال

م ٤

# د گمرکونو او عوایدو معین د نفتي موادو د ارزوني په موخه فراه ولایت ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د عوایدو او گمرکونو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید، چې په رسمي سفر فراه ولایت ته تللی، د فراه له والي الحاج مولوي غوث الدین رهبر سره د کتني ترڅنگ د یاد ولایت د گمرک او مستوفیت چاري هم لیدلي.

له نوموړي سره، چې د یاد معینیت د نفتي موادو د کنټرول او کیفیت رئیس قاري محمد ابراهیم خلیل هم ملتیا کوي د فراه له والي سره په کتنه کې د بې کیفیته تېلو د واردولو پر مخنیوي او په دې برخه کې د شته ستونزو پر حلولو، سوداگرو ته د لازمو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، د دې ولایت د عوایدو پر زیاتوالي او یو شمېر نورو اړینو موضوعاتو بحث او خبري وکړې.

نوموړي د ابو نصر فراهي گمرک او د فراه ولایت د مستوفیت له چارو څخه د لیدني پر مهال د یادو ادارو مسئولینو او کارکوونکو ته د لازمو اسانتیاوو د رامنځته کولو، د چارو د لا ښه والي په موخه د کارکوونکو او مسئولینو تر منځ د همکاری او همغږی د لا زیاتولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه سپارښتني هم وکړې.

د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو او عوایدو معین په دې سفر کې د فراه ولایت د کنټرول او کیفیت آمریت له پاره نوی آمر هم کارکوونکو ته ور معرفي کړ.



# په هیواد کي د لومړي ځل له پاره د پلټونکو ادارو او د مسلکي زده کړو بنسټونو ته د جواز ورکولو پروسه پیل سوه

د مالي چارو د پلټنې اداري، په امارتي او خصوصي شرکتونو کې د پلټنې (Audit) چاري ترسره کوي، چې موخې ئې د مالیاتو له تېښتې څخه مخنیوی، د مالي ستونزو رابرسیره کول او حلول، د مالي روڼتیا رامنځته کول او د مالي چارو معیاري کول دي.

لکه څرنگه، چې له کلونو راهیسي افغانستان د مسلکي محاسبینو له کموالي سره مخ وو، چې دغه کموالي د شرکتونو مالي چاري له گڼو ستونزو سره مخ کړي وې؛ نو د همدې ستونزې د حل او د مسلکي محاسبې د پیاوړتیا په موخه، د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست اړوند د افغانستان د مسلکي محاسبینو ادارې (CPA) د لومړي ځل له پاره پلټونکو ادارو او د مسلکي زده کړو بنسټونو ته د ټاکل سویو معیارونو سره سم، د ثبت او جواز ورکولو پروسه پیل کړه.

پلټونکو ادارو ته د معیاري جواز په ورکولو سره به، د دغه ادارو چاري مسلکي سي، د ملي عوایدو له تېښتې څخه به مخنیوی وسي، د امارتي او خصوصي شرکتونو په عوایدو کې به زیاتوالی راسي، په مالي او مالیاتي پروسو کې به بشپړه روڼتیا رامنځته سي او شرکتونه به د سیستم جوړوني په برخه کې لا ډېر پیاوړي سي.



# د مالیې وزارت مقام د شکایتونو اورېدو خپلواک آمریت (۲۰) شکایتونو ته رسېدنه کړې

د مالیې وزارت د شکایتونو د اورېدو خپلواک آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدني مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه سوي شکایتونه په مستقیم ډول د وزارت له مقام سره شریکوي.

دغه آمریت د روان (۱۴۰۳) کال لړم میاشتي له پیل څخه د دغې میاشتي تر پایه پوري په ټوله کې (۲۰) شکایتونه ترلاسه او اورېدلي دي، چې له دې ډلي څخه (۱۲) شکایتونو ته رسېدنه سوې، (۳) تر کار لاندي دي او (۵) نور شکایتونه د کافي معلوماتو او شکایت کوونکو له لوري د اثباتیه اسنادو د نشتون له امله د دغې اداري لخوا بې بنسته وگڼل سول.

له دې ډلي (۱۰) شکایتونه د واټساپ له لاري، (۱) شکایت د ټلیفون له لاري او (۹) شکایتونه په حضوري بڼه له دې اداري سره شریک سوي دي، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې برخو کې ول، چې د دغه آمریت له لوري پر وخت ورته رسېدنه سوې ده.



د یادوني وړ ده، چې ټول هیوادوال کولای سي، چې د مالیې وزارت د بېلابېلو څانگو په ځانگړي توگه د عوایدي سرچینو او د گومارني په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیك، واټساپ، ټلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لاري له دغې اداري سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندی وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

واټساپ نمبر: ۰۷۴۵۷۶۵۷۵٦

برېښنالیك: Officialcomplaints@mof.gov.af

# تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د کندهار، فراه، نیمروز او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.

په نیول سویو توکو کې (۲۷۸۱۹) کیلو گرامه چاکلیټ، (۷۳۹۴) کیلو گرامه درمل، (۹۴۱۵) کیلو گرامه رُب، (۳۷۱۹) کیلو گرامه گوړه، (۱۰۰۰) کیلو گرامه مالگه، (۳۲۸۸) کیلو گرامه ملایي، (۹۹۴) کیلو گرامه پلاستیکي کڅوړي، (۵۵۹۲) کیلو گرامه لوبیا، (۸۲۷) کیلو گرامه شامپو، (٦۹۹) کیلو گرامه تېزاب، (۴۲۰) کیلو گرامه د ماشومانو وچې شیدې، (۵۹۴) کیلو گرامه د خیاطي ماشین تېل، (۵٦۰) کیلو گرامه تار، (۹۲۴) کیلو گرامه یو وار مصرف لوښي، (۹۸۰) کیلو گرامه اور زیاتوونکي مایع (۱۱۰۰) کیلو گرامه گیلاسونه، (٦۱۱) کیلو گرامه بیسکوټ، (۴۰۰) کیلو گرامه لواشك، (۴۹۸) کیلو گرامه د لیمو اوبه، (۳۱۸) کیلو گرامه رخت باب، (۳۰۱) کیلو گرامه اچار او (۳۴) عدده موټرسایکلونه شامل دي.

نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې دوامداره فعالیت کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.



# د یو شمېر وزارتونو د عوایدو او تدارکاتو کارکوونکو له پاره د پوهاوي سیمینار جوړ سو



د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له خوا (د صنعت او سوداگری، امر بالمعروف نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو، کرني اوبو لگولو او مالداری، د کور او ښار جوړولو، اقتصاد، د کلیو بیارغوني او پراختیا، او مهاجرینو وزارتونو) د عوایدو او تدارکاتي برخو کارکوونکو له پاره د (TAIS) او (RMIS) سیستمونو په تړاو د پوهاوي سیمینار ترسره سو.

دا سیمینار، چې د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشری ترسره سو، په کښې د عوایدو د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر روزي محمد نېکمل، د یادو وزارتونو کارکوونکو او یو شمېر نورو آمرینو گډون درلود.

ښاغلي حافظ مولوي شاه حسین حسیني د غونډې گډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته ئې کړه، چې موږ او تاسو ته درانه مسئولیتونه را سپارل سوي دي؛ نو اړتیا ده، چې خپلي چاري په بشپړ اخلاص، همغږی او مؤثره توگه ترسره کړو؛ تر څو خپل ولس ته په ریښتیني توگه خدمت وکړو.

د سیمینار په دوام کې د عوایدو لوی ریاست له لوري د عوایدو قطعیې راپور، د عوایدو منظم راټولولو او د قراردادونو د ثبت (TAIS) او (RMIS) سیستمونو معلومات وړاندي سول. همدارنگه گډونوالو خپلي ستونزي او وړاندیزونه له یادو مسئولینو سره شریک کړل، چې د غونډې په ترڅ کې پرې بحث وسو او یاده غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

# د پکتیا گمرک د هنگرونو او موټرونو د تمځای جوړولو پروژې چاري په چټکۍ سره رواني دي



د گمرکونو لوی ریاست له لوري د (۴۷،۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د پکتیا په گمرک کې د دوه بابه هنگرونو او د موټرونو د تمځای جوړولو پروژې چاري په چټکۍ سره رواني دي.

تر دې مهاله د یاد گمرک د هنگرونو چاري (۸۰) سلنه او د پارکینگ چاري نږدې (۳۰) سلنه پر مخ تللي او د روان کال تر پایه به ئې پاتي چاري هم بشپړي سي.

د یادوني وړ ده، چې د دې پروژې بودیجه د مالیې وزارت له پراختیایې بودیجې څخه ورکول کېږي، چې په جوړېدو سره به ئې سوداگرو، موټرچلوونکو او د گمرک کارکوونکو ته گڼې اسانتیاوې برابري سي.

شتمني SHTAMANI
اوونیزه

# د پیسو د ارزښت ساتل او پیاوړتیا

محمدعیسی مبارز

اسلامي امارت په افغانستان کي د پیسو د ارزښت ساتلو له پاره یو لړ اقدامات ترسره کړي دي، که څه هم دا هڅي په ځانګړو شرایطو کي ترسره کېږي. د دې اقداماتو ځیني مهمي برخي په لاندي توګه دي: اسلامي امارت هڅه کړې، چي د بهرنیو اسعارو په ځانګړي توګه د ډالرو پراخ کارول محدود کړي. دوی په ځینو ځایونو کي یوازي د افغانیو په کارولو ټینګار کوي، ترڅو د افغانیو پر ارزښت کنټرول ولري. اسلامي امارت هڅه کوي، چي د بانکونو فعالیتونه کنټرول کړي او مالي سکټور ته یو ډول ثبات راوړي، که څه هم نړیوال بندیزونه او د بهرنیو مالي سرچینو نشتون ستونزي راپېښوي.

**اقتصادي ثبات رامنځته کول:** اقتصادي ثبات د پیسو د ارزښت ساتلو بنسټیز عامل دئ. د مالي او اقتصادي پالیسیو ثبات: لکه؛ د حکومت بودیجه او مالیه راټولونه، د پانګوني د چاپېریال ښه کول او د صادراتو پیاوړي کول د افغانیو د ارزښت په ساتلو کي د دوامداره پرمختګ سبب ګرځي.

کله، چي یو هیواد خپل صادرات زیات کړي، په نړیوالو بازارونو کي د داخلي پیسو تقاضا هم ورسره لوړېږي. دا حالت د پیسو ارزښت لوړوي. کله، چي نړیوال بازارونه افغانیو ته اړتیا ولري، چي داخلي تولیدات پرې واخلي بیا واردات د هیواد د اسعارو ذخیرې ته زیان رسوي؛ ځکه چي بهرني توکي د داخلي پیسو تولیداتو د تقویې له پاره ګامونه اخیستل د پیسو په ارزښت ساتلو کي مرسته کوي.

**تورم (inflationمخنیوی) :**

مرکزي بانک باید د پیسو په چاپولو کي له احتیاط څخه کار واخلي او په ښه توګه ئې مدیریت کړي او همداشان د پیسو اضافي خپرول هم محدود کړي، چي د تورم د مخنیوي سبب وګرځي. د بهرنیو اسعارو ذخیره کول د ملي پیسو د ارزښت ساتلو له پاره مهم دي ځکه، چي دا د بهرنیو اقتصادي فشارونو په وړاندي مقاومت زیاتوي. د حکومتونو لخوا د رونتیا او اعتبار ساتل د پیسو په ارزښت باور زیاتوي او د انفلاسیون او پانیکو (وېري) مخه نیسي د بهرنیو پانګونو جلبول د اقتصادي ودي او




اسعارو په تقاضا کي مرسته کوي، چي له دې سره د ملي پیسو ارزښت او ثبات تر لاسه کېږي. همداشان په تولید او خدمتونو وړاندي کولو کي هیواد کولای سي اقتصادي پرمختګ رامنځته کړي او د پیسو ارزښت لوړ کړي. د اقتصادي تولید زیاتوالی د مختلفو عواملو او سیاستونو د همغږۍ رامنځته کولو سبب ګرځي.

**لاندي مهم ګامونه د اقتصادي تولید د زیاتوالي له پاره ګټور دي:**

**د بشري پانګي لوړول:** ښووني او مهارتونو ته وده ورکول د تولید د زیاتوالي له پاره اساسي سببونه دي. کله، چي خلک ښې زده کړي او مسلکي مهارتونه ولري، دوی کولای سي په کار کي ښه فعالیت وکړي او د تولید کچه لوړه کړي. یو ښه مالیاتي سیستم د اقتصادي تولید هڅوونکی وي. روان اسلامي نظام باید داسي مالیاتي پالیسۍ رامنځته کړي، چي سوداګرۍ او تولید وهڅوي، چي د مالیاتو راټولو پروسه د ډیجیټلي وسایلو او ټکنالوژۍ په مرسته نوره هم اغېزمنه کړي، د انلاین مالیاتو ورکولو سیستمونه د اسانتیاوو ترڅنګ د مالیه ورکوونکو شفافیت هم زیاتوي، چي دا کار د عوایدو زیاتول او د فساد په مخنیوي کي مرسته کوي. د مالیاتو سیستم باید عادلانه وي او د ټولنیزو طبقو ترمنځ متوازن بار را منځته کړي. د لوړو عوایدو لرونکو خلکو او شرکتونو څخه لوړه مالیه اخیستل او د ټیټوعوایدو لرونکو خلکو څخه کمه مالیه، د عدالت په ټینګښت کي مرسته کوي، چي بالاخره د پورتنیو کړنو په اساس کولای سو د پیسو ارزښت ثابت وساتو.


# اعلانات داوطلبی

**د داوطلبۍ خبرتیا**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ (۵) مي ناحیې اړوند کوټه سنګي کي د نظیف مارکېټ (۹) بابه دوکانونه او د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند ظاهر شاهي مارکېټ کي (۳) بابه دوکانونه د یو کال لپاره د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندي کړي.
۱- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-٤۲ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۲- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B٤۳ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۳- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B٤٤-٤٥ نمبر دوکان چي (۳۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۴- د نظیف مارکېټ اړوند، یو بابB-٤٦ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۵- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-٤۷ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
٦- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-٤۸ نمبر دوکان چي (۱۵) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۷- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-٤۹ نمبر دوکان چي (۳) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۵۰۰) افغانۍ ده.
۸- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب B-۵۰ نمبر دوکان چي (۱۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۰۰۰) افغانۍ ده.
۹- د نظیف مارکېټ اړوند، یو بابB-۵۱-۵۲-۵۳ نمبر دوکان چي (٥٤) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۲۰۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ - ۳٤,٥۱٥۲۷۲
۱۰- د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، یو باب ۷٦ نمبر دوکان چي (٥,٦۰۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۳۰۰۰) افغانۍ ده.
۱۱- د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، یو باب ۱۹ نمبر دوکان چي (۷,۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦٥۰۰۰) افغانۍ ده.
۱۲- د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند، یو باب ۲۰ نمبر دوکان چي (۱٤,۰٤) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦٥٥۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۷۷٥٦- ۳٤,٥۱۷۱
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/ لیندۍ/ ۰۴) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ لندۍ/۲۴) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ لیندۍ/۲۵) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

**داوطلبۍ خبرتیا**

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ (۴) او (۹) مي ناحیې اړوند (۲) دولتي ملکیتونه په جلا جلا ډول د (۳) کلونو له پاره د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندي کړي.
۱- د کابل ښاروالۍ (۹) مي ناحیې اړوند د کابل- جلال آباد عمومي سړک سره د (۲۳۰۰۰) متره مربع ځمکه، چي د هنګر، دفتر او تشنابونو درلودونکې ده او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱٥۹٥۸۸) افغانۍ ده. کوردینات ( جي پي اېس۳٤,٥٤٥٦ ٦۹,۲۸۳۳۱)
۲- د کابل ښاروالۍ (۴) مي ناحیې اړوند برج شهرآرا کي یو باب دوه پوړیزه ودانۍ چي (٦) خونې، دهلیز، تشناب، آشپزخانه او د حویلۍ صحنه چي (۳۴۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۰۰۰۰) افغانۍ ده. کوردینات ( جي پي اېس ) (۳٤,٥۳۳ ٦۹,۱٦۱۲٦٤)
شماره تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/ لیندۍ/ ۰۳) څخه وروسته تر (۱۴۰۳/ لندۍ/۰۹) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/ لیندۍ/ ۱۰) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه (۱۲) باب دوکاکین نظیف مارکیت واقع کوته سنگی مربوط ناحیه (۵) شاروالی کابل را برای مدت (۱) سال به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.
۱- دوکان نمبرB۱٤-۱۹ (هوتل) بمساحت٤۱۳,٥ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦٥۰۰۰) افغانی.
۲- دوکان نمبر B۱۸ به مساحت ۱۰۰,٤ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۳۰۰۰۰) افغانی.
۳- دوکان نمبر B۲۰ به مساحت ۷,٥۹ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٥۰۰۰) افغانی.
۴- دوکان نمبرB۲٥ به مساحت۱۲,٤٥ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٤۰۰۰) افغانی.
۵- دوکان نمبرB-٥٤ به مساحت ۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
٦- دوکان نمبر B-٥٥ بمساحت ۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
۷- دوکان نمبرB-٥٦ به مساحت ۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
۸- دوکان نمبرB-٥۷ به مساحت۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
۹- دوکان نمبرB٥۸ به مساحت۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
۱۰- دوکان نمبرB٥۸ به مساحت۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی.
۱۱- دوکان نمبر B٦۰-٦۱به مساحت۳٦ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۰۰۰) افغانی
۱۲- دوکان نمبرB٦۲ به مساحت ۱۸ مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۰۰۰) افغانی
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ - ۳٤,٥۱٥۲۷۲
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ۷/ قوس/ ۱۴۰۳ الی۲۷/ قوس/ ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر۱۴ منزله، منزل۵ ، مدیریت عمومی ارزیابی قرارداد های مرکزی.
شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤).



ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

شتمني SHTAMANI
اوونیزه




## "Do Not Delay Public Services, Implement Decrees of HH Supreme Leader"- Minister of Finance

Finance Minister Hon. Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund held an online coherence meeting with the officials of Mustofiyats (Finance Departments) as the General Directorate of Revenues, Hafiz Maulawi Shah Hussain Hussaini, Supportive Deputy of Revenues and officials of Mustofiyats also attended the session. At the beginning of the session, the Acting Minister of Finance addressed e-meeting and emphasized on the better coordination between the General Directorate of Revenues and provincial Mustofiyats. "Do not postpone public services, treat people well in accordance with official responsibility, make sincerity and honesty a habit in your work and responding to clients", the minister told. Minister of Finance also emphasized for the implementation of the decrees of HH Amir al-Momineen (may Allah almighty protect him), not only on officials, but for all staff. Additionally, Hon. Minister guided the officials of provincial Mustofiyats to hold administrative meetings every fortnight and added that the door of MoF is open to all publicly.

## CPA of General Directorate of Treasury of MoF Initiates Granting Licenses to Auditing Agencies, Professional Education Bodies

Financial audit agencies conduct audits in IEA-owned and private corporations with the aim of preventing tax evasion, uncovering and solving financial problems, assuring financial transparency and standardizing financial affairs. Afghanistan has had a shortage of professional accountants for years, and the lack of professional accountants in this field has caused many problems in the financial affairs of corporations. In order to solve the aforementioned obstacle and to strengthen professional accounting, CPA (Certified Professional Accountants Afghanistan) of the General Directorate of Treasury of MoF, for the first time initiated the registration and licensing process to auditing agencies and professional education institutions with set standards. By granting standard licenses to auditing agencies, Mof assures that administrative affairs will be professional and evasion of national revenues will be prevented, and the revenues of IEA-owned and private corporations will increase. It not only assures full transparency in financial and taxation processes, but also to empower corporations in system building. MoF endeavors to have a standard system for the financial sector of Afghanistan.

> CPA initiation about the registration and licensing process to 'auditing agencies and professional education institutions', removes financial obstacles, preventing evasion of national revenues and assures fully transparency in financial and taxation processes.

## Afghan Customs Return 60 Tankers of Substandard Oil Amidst Hard Supervision

The Directorate of Quality and Supervision MoF, which determines the quality of petroleum products imported into Afghanistan against the set standards, returned 60 tankers low-quality oil from the customs of Abu Nasr Farahi in Farah Province and Torghundiy in Herat Province. Only 41 tankers of the rejected oil were imported by the Saha Safa Petroleum Corporation, which were returned from the customs of Torghundiy after determination process. The Directorate of Quality and Supervision of Petroleum Products of MoF provides opportunity for the import of high-quality and standard petroleum products to the country and strictly prevents the import of low-quality petroleum products.




## د چین ــ افغانستان ــ ایران پټلۍ د مسیر او لګښت د لنډېدو احتمال




د ټرېنډ ـ trend په نوم د اذربایجان یو خبري اژانس د «چین ـ افغان ـ ایران» تر منځ د اورګاډي پټلۍ په تړاو راپور خپور کړی دئ. وایي دا چې چین، افغانستان او ایران ګاونډي هیوادونه دي؛ نو د درې واړو هیوادونو ترمنځ د اورګاډي د ټرانسپورټ فاصله او لګښت په جدي توګه د کمېدو وړ دئ. راپور دا خبره د ایران د سړکونو او ښار جوړوني وزارت مرستیال او د اورګاډي ادارې عمومي مشر جبار علي ذاکري په حواله رانقل کړې ده، چې نوموړي دغه څرګندونې د افغانستان د اورګاډي ادارې له رئیس محمد اسحاق صاحبزاده سره په کتنه کې کړي دي. د هغه په وینا، دغه وړاندیز د ایران له خوا وړاندې سوی دئ او وایي دا یوازینۍ لار ده، چې د توکو د لېږد په برخه کې له هره اړخه اغېزمنه تمامېدای سي؛ نو په دې خاطر په تاکل سوي مهالوېش کې د هرات ریل پټلۍ بشپړول خورا مهمه ده. ذاکري یادونه وکړه، چې د افغانستان په شمال لوېدیځ کې له ایران سره ګډې پولي ته څېرمه د اورګاډي پټلۍ شتون د دواړو ملکونو ترمنځ د بار وړونکو توکو د لېږد له پاره یو ښه فرصت دئ. په دې کتنه کې د افغانستان د اوسپني پټلۍ د ادارې رئېس ښاغلي محمد اسحاق صاحبزاده هم هیله څرګنده کړه، چې د ترسره سویو څېړنو له مخې د چین، افغانستان او ایران تر منځ د بار وړونکو موټرونو د تګ راتګ ښه زمینه برابره سي. وایي افغانستان چمتو دئ، چې له ایران سره په ګډه په دې برخه کې اړین ګامونه پورته کړي. صاحبزاده راپور ته ویلي دي، چې په افغانستان کې د «زرنج ــ کندهار» د اورګاډي کرښې د جوړولو په اړه څېړني رواني دي. د ایران له زابل ښار سره د دغه اورګاډي پټلۍ نښلول به د دواړو هیوادونو په سوداګرۍ کې نوې پاڼه پرانیزي، ګډې همکارۍ به د مالونو د لېږد رالېږد او د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د زیاتوالي لامل سي.


### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af